د اروانباد اسحاق ننگيال د اوم تلين په بهانه
۱۳۷۷ - ۱۳۳۵

# چې غر ځوانيمرګ شي او سيندونه ومري



ترتيب و تنظيم: **هژبر شينواری**

## اجمل تورمان

ورځې مري. شپې مري. شيبې مري او سيندونه هم مري. سيندونه هغه وخت مري چې غر ځوانيمرګ شي او چې غر ځوانيمرګ شي نو بيا کله هم د سيند په لاس سپيرو ډاګونو ته د شين فصل د راتللو څپه، څپه زيري نه راليږي.

(غر څومره ښکلی دی؟
د تيرو د آرام سين
د موسکا
وينو څپوکې ويده
غر
د دې شګو په توکريو کې
د لمر د سرو انګورو
د باران هادي.
***
غر څومره ښکلی دی!
د لارې د کاروان
د تږيو اوښو
هر قدم کې
د شنو پرخو ګړی
غرمو د مينو د کيسو
سمسوره ژبه
او د ښکلو ښاپيرو
د کمڅو د سرو ګلونو
د باغچو مالي.
غر
د ښارونو
او کوڅو
او د بامونو
له تور تمو زندانونونه دوتيو
شنو بادونو
د سفر او آزاديو ډګر
غر
د هوسيو او بازانو
د دې ستړيو ستړيو منډو
اوخوبونو
دغه ښکلی
زړه راکښونکی انځور
غر څومره ښکلی دی آشنا
دا څومره ښکلی دی غر!)

چې غر ځوانيمرګ شي او سيندونه ومري، ويالې ميراتې شي، لښتي لاس ترزنې کښيني او په اوبو کې د ښايسته وو ښاپيريو د مړوندونو سيوري جل ووهي او هيلی؟

(لښتي وچ شول
ويالې ورانې
سن د تورو کانو غر شو
اوس حيران يم چې لامبي؟
***
نه پوهيږم، نه پوهيږم
ای د کلي مازيګره
ها زمونږ د کلي چم کې
هغه سپينه کيږدۍ څه شوه؟
هغه شنې خېرې څه شوې؟
ها لوګړې جينۍ چيرې؟
***
تا ته ياد شي مازيګره!
د ګودر د غاړې ليکې

لکه باغ د ښاپیریو
لکه لارې د کوترو؟
***
تا ته یاد شي مازیګره!
هغه شنې دیرې د کلي؟
پکې هسک د شملو غرونه
پکې وریځې د چلمو؟
***
نه، نه وران دی
کلی وران دی
یوه څاله پکې نشته
ها د ښکلیو توتکیو
یو نغری هم آباد نه دی
دا بیو د لاس نښه.
***
لښتي وچ شول
ویالې ورانې
دا هیلۍ به چیرې لامبي!)
چې غر ځوانیمرګ شي او سیندونه ومري د تاکونو په
رګونو کې د مستي څاڅکي ساوې وغځوي، ولې او
چنارونه د خپلو سیورو د جنازو امامان شي او شپونکی
مرغیو او طلایي کبانو ته په خپله شپیلۍ کې د خپل
ځوانیمرګ پلار وروستی شعر واوروي:
(مرغیو! چوپ شی ماله خوب راځي
دلته د زرونو باغچې شنډې دي
یو سیوری او یو ګل نشته
دلته د سین سپینو هندارو کې
د لمر د طلایي کبانو رنګ تور شو
دلته د شونډو د موسکاوو هوسۍ
قتلې شولې
غشیو یورې
او بنګړیواله سپورمۍ
دلته د تاک پیغلوته
د ستورو بنګړي نه اچوي
مرغیو! چوپ شی ماله خوب راځي
مرغیو!
چوپ شی
ماله
خوب
راځي!

دلته د باغ د شهزادګۍ بکارت مات دی
د سپرلي ښکلې شهۍ
د قاف دیوانو وړې
دلته پر ونو
د "ایوب" سیوری را خور دی
هرې پاڼې
هر اندام نه یې چینجي ووزي
دلته تیارې
د شپو په بلاربو اسپو راغلې
د رڼا درمو لو کوي
دلته کورونو ته
د ژوند له شوم شیروارنه د سپیدو کټوې تشې راځي
مرغیو!
چوپ شی
ماله
خوب
راځي.
***
(خوبه! خادر را باندې وغوروه
نور مې ویده کړه چې وینتیاوو ستړی کړی یمه
نور مې ویده کړه چې له وینې نه مې کرکه راځي
زه چې ویده یم وینښ یم
خوبه! خادر راباندې وغوروه!
خوبه قربان دې شم
نور ماته د دې ورځو دا بربنډې پیغلې مه راښیه
زه یې د سترګو په هندارو کې
د اور او د سکروټو او لمبو ازانګې نه شم لیدای
خوبه! ما بوځه بیا د هغو تورو شپو غیږې ته
زه خپله لاره بې له شپو پهرښو ورځو کې
موندلای نه شم
ورځ مې د سترګو په هیندارو کې اورنه کړي
خوبه! ویده مې کړه خادر راباندې وغوروه)
او دادی اوه دولس میاښتې کیږي چې غر ځوانیمرګ دی، سیندونه
مړه دي او د ښکلازنې هم تړل شوې دي خو:
(قربان یې شم له ضده چې یې هیڅ نکړو بدل
هماسي چې افغان و بل افغان نه شو دا غر!)

**اجمل تورمان**